د لوړوزده کړو وزارت
احمدشاه ابدالی پوهنتون
علمي چارو معاونیت
د علمي خیړنو او نشراتو امریت

# د علمي خیړنو او نشراتو طرز العمل

کال: ۱۴۰۵ هـ ش مطابق ۱۴۴۸ هـ ق

## سریزه

احمدشاه ابدالي پوهنتون په ۱۳۹۱ هـ ش کال کې د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې په توګه، د لوړو زده کړو وزارت څخه د (۴۷) ګڼې فعالیت جواز په ترلاسه کولو سره په فعالیت پیل وکړ. پوهنتون د فعالیت له پیل څخه تر اوسه پورې د لوړو زده کړو د نافذه لایحو، طرزالعملونو او اصولو په رعایت سره، د هېواد په جنوب ختیځ زون کې د طبي زده کړو د پراختیا او کیفیت د لوړولو په برخه کې مهم رول ترسره کړی دی. پوهنتون د تدریس او زده کړې ترڅنګ، د علمي څېړنو، تألیف، ژباړې، تدوین او د علمي اثارو د چاپ او نشر په برخو کې هم د خپلو مسؤولیتونو د ترسره کولو هڅه کوي. د دې فعالیتونو موخه د علمي کادر د ظرفیتونو پیاوړتیا، د علمي اثارو د تولید زیاتوالی او د محصلینو لپاره د باوري او معیاري علمي منابعو برابرول دي. سره له دې چې د پوهنتون محصلینو ته د بېلابېلو معتبرو علمي منابعو څخه د استفادې زمینه برابره شوې، خو ډېری دغه منابع په نړیوالو ژبو، په ځانګړې ډول په انګلیسي ژبه دي. د محصلینو د ژبني مهارتونو د کچې د توپیر له امله، ځینې محصلین د دغو منابعو د محتوا په بشپړ او دقیق درک کې له ستونزو سره مخ کېږي. له همدې امله، د تحصیلي نصاب او د علمي پروګرامونو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره، په ملي ژبو د درسي کتابونو، ممد درسي کتابونو، لکچرنوټونو او نورو علمي اثارو تألیف او ژباړه یوه مهمه اړتیا ده.

د همدې اړتیا له مخې، دغه طرزالعمل ترتیب شوی دی، ترڅو د پوهنتون د علمي کادر غړو علمي څېړنې، تألیف، ژباړه، تدوین او نشراتي فعالیتونه په منظم، معیاري او شفاف ډول تنظیم شي. همدارنګه، د علمي اثارو د پیشنهاد، ارزونې، سمون، چاپ او نشر، د حق‌الزحمې د ټاکلو او د اړوندو علمي امتیازاتو د تنظیم لپاره لازم اصول او اجراآت مشخص شي. دغه طرزالعمل د علمي څیړنو د تالیف، ژباړېږ تدوین، ارزونې، چاپ او نشر بهیر د تنظیم، د حق الزحمې د ټاکلو او د علمي فعالیتونو د تشویق او تقدیر لپاره لازم اصول او اجرات مشخصوي.

## لومړی فصل

## عمومي احکام

**لومړۍ ماده: د طرزالعمل بنسټ**

دغه طرزالعمل د احمدشاه ابدالي پوهنتون د علمي اړتیاؤ، تحصیلي نصاب، نافذه اصولو، مقرراتو، لوایحو او ټاکل شویو معیارونو پر بنسټ د علمي څیړنو، تالیف، ژباړې، تدوین او نشراتي فعالیتونو د تنظیم او پراختیا لپاره ترتیب شوی دی.

**دوهمه ماده: موخې**

د دې طرزالعمل مهمې موخې په لاندې ډول دي:

۱. علمي کادر غړي، علمي څېړنو، تألیف، ژباړې، تدوین او نورو نشراتي فعالیتونو ته هڅول او تشویقول.

۲. د علمي اثارو د تألیف، ژباړې، تدوین، سمون او تقریظ لپاره د حق الزحمې ټاکل.

۳. د علمي څېړنو او څېړنیزو پروژو لپاره د حق الزحمې او اړوندو امتیازاتو تنظیمول.

۴. د څېړونکو او پوهنتون ترمنځ د څېړنیزو فعالیتونو له عوایدو څخه د عادلانه او شفاف ویش لپاره د اصولو ټاکل.

۵. د علمي کتابونو، مقالو، مجلو او نورو علمي اثارو د ارزونې، چاپ او نشر لپاره د مشخصو اصولو وضع کول.

۶. د درسي او ممد درسي کتابونو د تألیف او ژباړې له لارې د محصلینو د زده کړو د کیفیت لوړول.

۷. په ملي ژبو د علمي اثارو د تولید او نشر پراختیا.

۸. د احمدشاه ابدالي پوهنتون د علمي اثارو د ذخیرې پیاوړتیا او په ملي او نړیواله کچه د پوهنتون د علمي اعتبار لوړول.

۹. د علمي اثارو د کیفیت، اصالت، امانتدارۍ او د کاپي، نقل او علمي سرقت د مخنیوي لپاره د ښکاره اصولو رامنځته کول.

۱۰. د محصلینو، علمي کادر غړو، څېړونکو او نورو علمي همکارانو د غوره علمي، څېړنیزو، نوښتګرو او نشراتي فعالیتونو د تشویق او تقدیر لپاره د مشخصو معیارونو او اجراآتو رامنځته کول.

۱۱. د علمي څېړنو، تألیف، ژباړې، علمي مقالو، نوښتونو او نورو علمي فعالیتونو د کمیت او کیفیت د لوړولو لپاره د سالمې علمي سیالۍ، هڅونې او تشویق زمینه برابرول.

**درېیمه ماده: اصطلاحات**

په دې طرزالعمل کې لاندې اصطلاحات دا معنا لري:

۱. اثر: هغه علمي تولید، چې د کادري غړي لخوا د تألیف، تدوین، ژباړې، څېړنې یا نورو علمي فعالیتونو له لارې رامنځته کېږي.

۲. تألیف: د یوه علمي یا درسي کتاب لیکل او برابرول دي، چې مطالب یې د لیکوال د علمي تحلیل، مطالعې او له بېلابېلو معتبرو علمي منابعو څخه د استفادې پر بنسټ ترتیب شوی وي.

۳. مؤلف: هغه علمي کادر غړی چې یو علمي یا درسي اثر تألیفوي.

۴. ژباړه: د یوه علمي اثر د محتوا له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د مفهوم، علمي اصطلاحاتو او اصلي پیغام په ساتلو سره انتقالول.

۵. ژباړن: هغه علمي کادر غړی چې د علمي اثر ژباړه ترسره کوي.

۶. درسي کتاب: هغه کتاب، چې د یوه تحصیلي پروګرام د کریکولم له مخې د یوه مضمون عمده موضوعات په معیاري ډول رانغاړي او د اړوندې څانګې او علمي مراجعو له تأئید وروسته د تدریس لپاره کارول کېږي.

۷. ممد درسي کتاب: هغه علمي اثر، چې له یوه یا څو درسي مضامینو سره علمي ارتباط ولري او مطالعه یې د محصلینو د علمي معلوماتو د پراختیا سبب ګرځي.

۸. لکچرنوټ: هغه درسي متن، چې د یوه مضمون د مفرداتو، موخو او تدریسي اړتیاوو مطابق برابر او د اړوندې څانګې له خوا تأئید شوی وي.

۹. د تألیف حق الزحمه: هغه مالي امتیاز، چې پوهنتون یې د علمي اثر د تألیف په بدل کې مؤلف ته ورکوي.

۱۰. د ژباړې حق الزحمه: هغه مالي امتیاز، چې پوهنتون یې د علمي اثر د ژباړې په بدل کې ژباړن ته ورکوي.

۱۱. تقریظ: د یوه علمي اثر په اړه د یوه رتبه لرونکي او یا مسلکي کس لیکلی علمي نظر، ارزونه او نقد چې د اثر د محتوا، علمي ارزښت، میتود، پیاوړو او کمزورو ټکو په اړه وړاندې کېږي.

۱۲. سمون (Edit): د یوه اثر له چاپ او نشر څخه وړاندې په متن، ژبه، املاء، انشاء، جوړښت، بڼه او محتوا کې د علمي او تخنیکي معیارونو مطابق د اصلاحاتو راوستل.

۱۳. معیاري پاڼه: هغه پاڼه چې د پوهنتون د علمي او نشراتي لارښود له مخې د لیکدود، فونټ، حاشیو، کرښو او نورو تخنیکي مشخصاتو له پلوه ټاکل شوې وي.

۱۴. علمي سرقت (Plagiarism): د بل شخص د علمي نظریاتو، لیکنو، موندنو یا مطالبو له مناسبې حوالې پرته استفاده او د خپل اثر په توګه وړاندې کول.

## دوهم فصل

## د علمي، څېړنيزو او نشراتي اثارو معيارونه

**څلورمه ماده: د څېړنيز علمي اثر ځانګړنې**

يو علمي اثر هغه وخت د څېړنيزو معيارونو مطابق ګڼل کېږي، چې لاندې ځانګړنې ولري:

۱. په علمي برخه کې نوې مفکوره، نظر، موندنه يا علمي تحليل وړاندې کړي.

۲. له املايي، نحوي او انشايي تېروتنو څخه پاک او په معياري ژبه ليکل شوی وي.

۳. د اثر د محتوا لپاره له معتبرو او نويو علمي منابعو څخه استفاده شوې وي.

۴. د علمي اثر جوړښت، سرليکونه، څېړنيزه ميتودولوژي، پايله او مراجع يې د علمي معيارونو مطابق وي.

۵. د کارول شويو منابعو او اقتباسونو لپاره روښانه او منظمې حوالې ورکړل شوې وي.

۶. د اثر د موضوع له اړتيا سره سم د څېړنې موخه، پوښتنې، ميتود، پايلې او وړانديزونه په روښانه ډول بيان شوي وي.

۷. اثر بايد د علمي امانتدارۍ له اصولو سره سم وي او پکې علمي سرقت، جعلي معلومات او له منابعو څخه ناسم نقل موجود نه وي.

**پنځمه ماده: د تأليف شرايط**

تأليف شوی اثر بايد لاندې شرايط ولري:

۱. له معتبرو او اړوندو علمي منابعو څخه استفاده کول.

۲. په روانه، معياري او علمي ژبه ليکل.

۳. د اثر د ليکلو په ژبه کې د معادلو اصطلاحاتو د شتون په صورت کې د غيرې ضروري بهرنيو اصطلاحاتو له کارولو ډډه کول.

۴. د اثر په پای کې د ناڅرګندو اصطلاحاتو او مفاهيمو تشريح.

۵. د پوهنتون د چاپ او نشر د تخنيکي لارښود مطابق د پاڼې اندازه، فونټ، حاشيې، سرليکونه، جدولونه، انځورونه او نور شکليات رعايتول.

۶. د منابعو او مأخذونو منظم ثبت.

۷. مؤلف مکلف دی، چې د نورو ليکوالانو له نظرياتو او مطالبو څخه د استفادې پر مهال مناسبه حواله ورکړي.

۸. تأليف شوی اثر بايد د ليکوال خپل علمي کار وي او د علمي سرقت له هر ډول بڼې څخه پاک وي.

**شپږمه ماده: د ژباړې شرايط**

د علمي اثارو ژباړه بايد لاندې ځانګړنې ولري:

۱. ژباړن بايد په اصلي او ژباړل کېدونکې ژبه او همدارنګه په اړونده علمي موضوع پوره تسلط ولري.

۲. ژباړن بايد د مفهوم د دقيقې افادې وړتيا ولري او له بې ځايه ټکي په ټکي ژباړې څخه ډډه وکړي.

۳. که د ژباړې په ژبه کې د اصلي اصطلاح معياري معادل موجود وي، بايد د هغې پر ځای معياري اصطلاح وکارول شي.

۴. د اړتيا په صورت کې بايد د دواړو ژبو د علمي اصطلاحاتو لېست د الفباء په ترتيب برابر شي.

۵. د اصلي ليکوال نوم، د اثر عنوان، د مجلې نوم، د نشر کال، د نشر ځای، ټوک، ګڼه او نور اړوند مشخصات بايد په سمه توګه ذکر شي.

۶. که په اصلي اثر کې څرګنده علمي يا چاپي تېروتنه موجوده وي، د هغې د اصلاح موضوع بايد په لمنليک يا پای ليک کې روښانه شي.

۷. ژباړن بايد د اصلي اثر مفهوم، علمي محتوا، ترتيب او اساسي پيغام وساتي او له شخصي نظرياتو څخه د اصلي متن په توګه د زياتولو څخه ډډه وکړي.

۸. د ژباړې کيفيت بايد د اړوندې موضوع د متخصص او ژبني سمون د مسؤول لخوا وکتل شي.

**اوومه ماده: د درسي کتاب د تأليف شرايط**

هغه درسي کتابونه، چې د کريکولم او د څانګو د اړتياوو مطابق برابرېږي، بايد لاندې ځانګړنې ولري:

۱. د اړوندې څانګې او تحصيلي پروګرام اړتياوو ته ځواب ويونکي وي.

۲. محتوا يې د مضمون له مفرداتو او درسي موخو سره مطابقت ولري.

۳. له معتبرو، نويو او اړوندو علمي منابعو او مأخذونو څخه پکې استفاده شوې وي.

۴. د درسي کتابونو د جوړښت، سرليکونو، فصلونو او د تدريس ترتيب معيارونه پکې رعايت شوي وي.

۵. محتوا يې بايد د اړوند مضمون د منظور شوو مفرداتو او تدريسي اړتياؤ د بشپړ پوښښ وړتيا ولري.

۶. مثالونه، تمرينونه، پوښتنې، ځوابونه، ضمايم، انځورونه، جدولونه او شکلونه يې د ښه کيفيت او علمي معيارونو لرونکي وي.

۷. د درسي کتاب هر فصل بايد د زده کړې موخې، اساسي مفاهيم او د موضوع د ارزونې لپاره مناسبې پوښتنې ولري.

۸. د درسي کتاب محتوا بايد د اړوند تحصيلي نصاب له وروستۍ منظور شوې نسخې سره همغږې وي.

**اتمه ماده: د ممد درسي کتاب ځانګړنې**

ممد درسي کتاب بايد لاندې ځانګړنې ولري:

۱. د اړوندې څانګې په غونډه کې تائيدي ولري.

۲. له يوه يا څو درسي مضامينو سره مستقيم علمي ارتباط ولري.

۳. هغه موضوعات چې ممد درسي کتاب پرې ليکل کېږي، بايد د څانګې په غونډه، د پوهنځی په علمي شورا او د څېړنو او نشراتو اړوندې کمېټې له خوا تأئيد شي.

۴. د ممد درسي کتاب محتوا بايد د اصلي درسي کتاب ځای ناستې نه وي، بلکې د محصلينو د علمي معلوماتو د تکميل او پراختيا لپاره وي.

**نهمه ماده: د لکچرنوټ د ليکلو شرايط**

هغه لکچر نوټ چې د درسي مفرداتو مطابق لیکل کېږي، باید لاندې ځانګړنې ولري:

۱. د علمي برنامې او درسي مضمون له موخو سره مطابقت ولري.

۲. له املایي، ګرامري او ټایپي تېروتنو څخه پاک وي.

۳. په ښه کیفیت او د کتاب په بڼه برابر شي او اصلي نسخه یې د لوستلو وړ وي.

۴. ژباړل شوی لکچر نوټ باید د ژباړې ټول علمي او ژبني معیارونه ولري.

۵. لکچرنوټ باید د اړوندې څانګې له تأئید پرته د رسمي درسي کتاب په توګه ونه کارول شي.

**لسمه ماده: د تقریظ شرایط**

د تقریظ د لیکلو پر مهال باید لاندې موارد په پام کې ونیول شي:

۱. تقریظ ورکوونکی باید د موضوع په برخه کې کافي علمي پوهه او تخصص ولري.

۲. د اثر اساسي مفکورې، علمي ارزښت، د تحقیق یا لیکلو میتود، قوتونه او کمزورۍ باید له دقیقې مطالعې وروسته وارزول شي.

۳. د اثر ډول او هغه علمي معیارونه چې د تألیف، ژباړې، څېړنې یا سمون لپاره رعایت شوي، باید بیان شي.

۴. د اثر د لیکلو یا برابرولو لپاره د ټاکل شوې مودې په اړه نظر وړاندې کړي.

۵. تقریظ باید مستند، بې‌طرفه او علمي وي او یوازې د حق الزحمې د ترلاسه کولو لپاره تشریفاتي بڼه ونه لري.

**یوولسمه ماده: د اثر د شکل او محتوا سمون**

د اثر د شکل، متن او محتوا د سمون پر مهال لاندې موارد باید رعایت شي:

۱. املاء، انشاء، نقطه ګزاري او جمله بندي باید اصلاح شي.

۲. د ژبې د ګرامر او اصولو خلاف موارد باید اصلاح شي.

۳. هغه جملې چې د موضوع او اصلي مفکورې له مخې مبهمې وي، باید اصلاح شي.

۴. د اړتیا په صورت کې د متن ترتیب، تنظیم او بیان باید اصلاح شي.

۵. د متن او موضوع اړوند د حقایقو څرګندې تېروتنې باید اصلاح شي.

۶. متن په معیاري علمي بڼه باید برابر شي.

۷. غیرې ضروري بهرني اصطلاحات باید د ژباړې په ژبه کې، په موجودو معیاري اصطلاحاتو بدل شي.

۸. که د اثر د ډول په مشخص کولو کې تېروتنه شوې وي، باید اصلاح شي.

۹. د اثر د برابرولو لپاره باید ټاکل شوې موده په پام کې ونیول شي.

۱۰. سمون ورکوونکی باید د اثر د اصلي علمي محتوا او د مؤلف د اساسي نظر له بدلون څخه ډډه وکړي، مګر د علمي یا ژبني اړتیا په صورت کې د اصلاح وړاندیز کولای شي.

## درېیم فصل

## د اثر پیشنهاد، ارزونه، سمون، تصویب او چاپ

دولسمه ماده: د علمي فعالیتونو پیشنهاد

د هر ډول علمي فعالیت، لکه علمي اثر، څېړنه، تألیف، ژباړه، تدوین او نورو علمي فعالیتونو لپاره لاندې شرایط باید رعایت شي:

۱. د علمي فعالیت پیشنهاد باید د اړوندې څانګې په غونډه کې تائید شي.

۲. د څانګې د شورا مصوبه باید له غوښتنلیک او اړوندو اسنادو سره پوهنځي ته وړاندې شي.

۳. پوهنځی باید وړاندیز د څېړنو په اړونده کمېټه کې مطرح کړي.

۴. د څېړنو کمېټه باید د وړاندیز له هر اړخیزې ارزونې وروسته خپل نظر له پوهنځي سره شریک کړي.

۵. د اړوند علمي فعالیت په اړه، پوهنځی باید د څېړنو کمېټه وړاندیز د پوهنځی علمي شورا ته وړاندې کړي.

۶. د تصویب په صورت کې به علمي شورا د وړاندیز له ارزونې وروسته، موضوع د پوهنتون د څېړنو او نشراتو کمېټې ته راجع کوي.

۷. د اثر د وړاندیز پر مهال باید لږ تر لږه د اثر عنوان، موخه، اړتیا، د مخاطبینو ډله، د محتوا لنډه طرحه، د کار موده او اټکلي منابع مشخصې شي.

۸. هغه آثار چې د پوهنتون له رسمي اړتیاوو سره مستقیم تړاو ونه لري، د څېړنو او نشراتو کمېټه یې د علمي ارزښت او د پوهنتون د اړتیا له مخې د منلو یا رد صلاحیت لري.

**دیارلسمه ماده: د اثارو د ارزونې کمېټه**

د اثارو او علمي فعالیتونو د ارزونې لپاره د پوهنتون د څېړنو په کمېټه کې د ارزونې هیئت تاکل کېږي، چې لاندې غړي لري:

۱. د پوهنتون د څېړنو او نشراتو کمېټې رئیس؛ د هیئت د رئیس په توګه.

۲. علمي معاون؛ د غړي په توګه.

۳. علمي مشاور؛ د غړي په توګه.

۴. د پوهنځي د څېړنو او نشراتو کمېټې رئیس؛ د غړي په توګه.

۵. د پوهنځي رئیس؛ د غړي په توګه.

۶. د اړوندې څانګې آمر؛ د غړي په توګه.

۷. د اثر د تخصصي ارزونې لپاره د اړتیا په صورت کې له داخلي یا بهرنیو متخصصینو څخه د ارزونکي په توګه استفاده کېدای شي.

۸. د اثر مؤلف، ژباړن، سمون ورکوونکی او تقریظ ورکوونکی د هماغه اثر د وروستۍ ارزونې په پرېکړه کې د رایې ورکولو حق نه لري.

**څوارلسمه ماده: د ارزونې د کمېټې کړنلاره**

۱. د ارزونې کمېټه په منظم ډول ناستې ترسره کوي او د اثارو د سمون، بیا کتنې او تقریظ لپاره وړ کسان ټاکي.

۲. ټاکل شوي کسان باید خپل کارونه په ټاکل شوې موده کې بشپړ او راپور یې کمېټې ته وړاندې کړي.

۳. د سمون، بیا کتنې او تقریظ د راپورونو پر بنسټ د اثر د چاپ، اصلاح یا رد په اړه تصمیم نیول کېږي.

۴. کمېټه کولای شي، چې د لا زیات دقت لپاره له نورو کمېټو، متخصصینو او علمي مراجعو څخه مرسته وغواړي.

۵. کمېټه کولای شي د اړتیا په صورت کې مؤلف، ژباړن، تقریظ ورکوونکی او نور اړوند کسان د توضیحاتو لپاره راوبولي.

۶. د ارزونې پایله باید په لیکلي ډول ثبت او د کمېټې په مصوبه کې درج شي.

۷. د اثر د ارزونې ټول اسناد باید د پوهنتون په اړوند دوسیه کې خوندي وساتل شي.

۸. د لومړنۍ ارزونې لپاره (۱۵) کاري ورځې، د مؤلف د اصلاح موده (۳۰) کاري ورځې او د بیا کتنې موده (۱۵) کاري ورځې په پام کې نیول کیږي.

**پنځلسمه ماده: د علمي ارزونې معیارونه**

د اثر د ارزونې پر مهال باید لاندې معیارونه په پام کې ونیول شي:

| شمیره | معیار | نمرې |
|---|---|---|
| ۱ | علمي اعتبار | ۲۰٪ |
| ۲ | علمي نوښت | ۱۵٪ |
| ۳ | علمي محتوا | ۲۰٪ |
| ۴ | منابع او حوالې | ۱۰٪ |
| ۵ | علمي امانتداري | ۱۵٪ |
| ۶ | ژبه او تخنیکي معیارونه | ۱۰٪ |
| ۷ | د موضوع اړتیا | ۱۰٪ |

**شپاړسمه ماده: د اثارو سمون او بیا کتنه**

۱. که تر ارزونې لاندې اثر علمي، ژبني یا تخنیکي تېروتنې ولري، د اصلاح لپاره مؤلف یا ژباړن ته بېرته سپارل کېږي.

۲. د مشخصو شویو تېروتنو د اصلاح مسؤولیت د مؤلف یا ژباړن پر غاړه دی.

۳. که له اصلاح وروسته هم په اثر کې داسې جدي تېروتنې موجودې وي، چې د چاپ مخه ونیسي، د چاپ پرېکړه لغوه یا اثر د نورو اصلاحاتو لپاره بېرته اړوند مسؤل ته سپارل کېږي.

۴. که تقریظ ورکوونکی یا سمون ورکوونکی په خپل مسؤولیت کې لازم دقت ونه کړي، د ارزونې کمېټه کولای شي، چې د هغه کار بل مسلکي کس ته وسپاري.

۵. د اصلاح او بیا کتنې لپاره باید مشخصې لیکلې لارښوونې مؤلف یا ژباړن ته وسپارل شي، ترڅو د اصلاح بهیر روښانه او د ارزونې وړ وي.

**اوولسمه ماده: د اثارو چاپ او نشر**

۱. علمي آثار او د علمي څېړنو پاڼې د څېړنو او نشراتو کمېټې له منظورۍ او د پوهنتون رئيس او يا د علمي چارو مرستيال له تأئيد وروسته د چاپ او نشر لپاره مطبعې ته سپارل کېږي.

۲. د اثر د ارزونې په پایله کې که اثر د مؤلف یا ژباړن د علمي، مسلکي یا تخنیکي کمزورۍ له امله د چاپ او نشر لپاره ونه منل شي، د اصلاح او بشپړولو لپاره به اړوند مؤلف یا ژباړن ته بېرته سپارل کېږي. که د ټاکل شوې مودې په ترڅ کې لازم اصلاحات ترسره نه شي او اثر د وروستۍ ارزونې پر مهال د چاپ وړ ونه ګڼل شي، د پاتې حق الزحمې د ورکړې حق نه لري؛ خو د هغه کار حق الزحمه چې د پوهنتون د نافذه اصولو مطابق بشپړ او د ارزونې وړ ترسره شوی وي، د ارزونې کمېټې د پرېکړې له مخې ټاکل کېدای شي.

۳. که اثر د علمي او مسلکي معیارونو له مخې د چاپ وړ وګرځي، خو د پوهنتون د مالي، اداري یا نورو هغو دلایلو له امله چې د مؤلف یا ژباړن له مسؤولیت څخه بهر وي، چاپ او نشر نه شي، د مؤلف یا ژباړن د بشپړ شوي علمي کار حق الزحمه نه ساقطېږي او د دې طرزالعمل د شپږ ویشتمې مادې مطابق ورکول کېږي.

۴. که د اثر په هر پړاو کې علمي سرقت، جعل، د معلوماتو تحریف، د بل شخص د اثر غیری مجاز نقل یا د علمي امانتدارۍ بله جدي سرغړونه ثابته شي، اثر به له چاپ او نشر څخه ایستل کېږي او مؤلف یا ژباړن به د همدغه اثر د حق الزحمې مستحق نه ګڼل کېږي. که تر دې وړاندې د حق الزحمې کومه برخه ورکړل شوې وي، د هغې د بېرته اخیستلو او یا نورو اقداماتو په اړه به د پوهنتون د نافذه اصولو مطابق تصمیم نیول کېږي.

۳. له چاپ وړاندې باید د اثر وروستۍ نسخه د مؤلف یا ژباړن له خوا وکتل شي او د چاپ لپاره په لیکلي ډول تائید شي.

۴. د چاپ له پروسې وړاندې باید د اثر ISBN، کاپي رایټ، د چاپ کال، چاپخونې او نورو اړوندو نشراتي معلوماتو د درج اړتیا وکتل شي.

## څلورم فصل

## د چاپ شمېر، حق الزحمه او علمي امتیازات

**اتلسمه ماده: د چاپ شمېر او تخنیکي شرایط**

۱. د چاپ شمېر (تیراژ)، د چاپ ډول، د کاغذ کیفیت، فونټ، صحافت او نور تخنیکي شرایط د پوهنتون د اړتیاوو مطابق مالي امکاناتو ته په پام د څېړنو کمېټه ټاکي.

۲. د چاپ نور شرایط د پوهنتون د څېړنو او نشراتو کمېټې او مطبعې ترمنځ په جلا لیکلي قرارداد کې تنظیمېږي.

۳. د چاپ د شمېر په ټاکلو کې باید د پوهنتون د محصلینو شمېر، د اړوند مضمون اړتیا، د بازار او علمي استفادې امکان او د مالي امکاناتو وضعیت په پام کې ونیول شي.

**نولسمه ماده: د حق الزحمې د ورکړې شرایط**

۱. که د تقریظ ورکوونکي تقریظ د دې طرزالعمل له شرایطو سره برابر وي، تقریظ ورکوونکی د حق الزحمې مستحق ګڼل کېږي.

۲. د حق‌الزحمې ترلاسه کول د هغو غیرمالي علمي او تشویقي امتیازاتو د ترلاسه کولو مانع نه ګرځي، چې د پوهنتون د نافذه اصولو له مخې مستحق شخص ته ورکول کېږي؛ خو د یوه علمي فعالیت په بدل کې د حق‌الزحمې ترڅنګ د ورته ماهیت د دوو یا څو مالي امتیازاتو ورکول یوازې د اړوندې مرجع له رسمي منظورۍ او د مالي اصولو په رعایت سره ترسره کېږي.

۳. که مؤلف یا ژباړن د پوهنتون په غوښتنه او موافقه په خپل اثر کې داسې نوي مطالب اضافه کړي، چې اضافي علمي کار او نوو منابعو ته اړتیا ولري، له ارزونې وروسته د اضافي کار حق الزحمې مستحق کېدای شي.

۴. هغه علمي کادر غړی، چې د څېړنو او نشراتو د کمېټې له تأئید وروسته د څېړنیزو پروژو یا اثارو چارې په خپلو شخصي مصارفو ترسره کوي، د حق الزحمې ترڅنګ د منظور شوو او د اړوند مستندو مصارفو د جبران مستحق هم ګڼل کېږي.

۵. د حق الزحمې ورکړه باید د پوهنتون د مالي اصولو او موجوده بودجې مطابق د مالي اسنادو پر بنسټ ترسره شي.

۶. د څو مؤلفینو یا ژباړونکو په صورت کې د حق الزحمې د وېش تناسب باید د کار د ونډې له مخې په لیکلي ډول مخکې له چاپ څخه مشخص شي.

**شلمه ماده: د څېړنیزو پروژو شرایط او حق الزحمه**

۱. د پوهنتون له لوري د علمي څېړنیزې پروژې له منظورۍ وړاندې باید د پروژې عنوان، شالید، د ستونزې بیان، موخې، څېړنیزې پوښتنې، د څېړنې میتود، د تطبیق ساحه، کاري پلان، مهالوېش، اټکلي پایلې او اړوند منابع په وړاندیز کې مشخص شي.

۲. د څېړنیزې پروژې بودجه باید د کار د اړتیاوو، د تطبیق د ساحې او منظور شوو فعالیتونو له مخې په تفصیلي ډول ترتیب او د پوهنتون د مالي اصولو مطابق تصویب شي.

۳. د څېړنیزې پروژې د تطبیق لپاره باید د پوهنتون او څېړونکي یا څېړنیز ټیم مسؤولیتونه، د کار موده، د تحویلي مرحلې، د راپور ورکولو شرایط او د پروژې د پایلو د وړاندې کولو نېټه له مخکې مشخصه شي.

۴. څېړونکی یا څېړنیز ټیم مکلف دی، چې د څېړنې چارې د منظور شوي پروپوزل، کاري پلان، بودجې او ټاکل شوې مودې مطابق ترسره او د پروژې پایلې په ټاکل شوې موده کې څیړنو امریت ته وړاندې کړي.

۵. د څېړنې په پای کې باید وروستی علمي راپور، اړوندې موندنې، پایلې، وړاندیزونه، د کارول شوو منابعو لېست او د پروژې د تطبیق اړوند مالي او اداري اسناد څیړنو امریت ته وسپارل شي.

۶. د څېړنې د معلوماتو، خامو معلوماتو، اسنادو، پوښتنلیکونو، ډېټابېسونو او نورو اړوندو علمي موادو ساتنه باید د پوهنتون د اصولو، د څېړنې د موضوع د اړتیاوو او د معلوماتو د محرمیت له شرایطو سره سم ترسره شي.

۷. هغه معلومات، چې د څېړنې د ګډونوالو شخصي، محرم یا د نه خپرېدو وړ معلومات ولري، باید له غیری مجاز افشاء، خپرولو او استفادې څخه خوندي وساتل شي.

۸. د څېړنیزې پروژې د پایلو، راپورونو، معلوماتو او له پروژې څخه د تولید شویو علمي اثارو د مالکیت او د استفادې حقوق باید د پروژې له پیل وړاندې د پوهنتون او څېړونکي ترمنځ د منظور شوو اصولو یا جلا لیکلي تړون له مخې مشخص شي.

۹. که څېړنیزه پروژه د پوهنتون په مالي امکاناتو، معلوماتو یا رسمي ملاتړ ترسره کېږي، د پروژې د پایلو د علمي او نشراتي استفادې حقوق به د پوهنتون د نافذه اصولو او د اړوند قرارداد مطابق تنظیمېږي.

۱۰. د څېړنیزې پروژې پایلې باید له علمي امانتدارۍ سره سمې وي او د معلوماتو جعل، تحریف، پټول، غیری مجاز نقل او علمي سرقت پکې موجود نه وي.

۱۱. د څېړنیزې پروژې د علمي ارزونې پر مهال د منظور شوي پروپوزل، د څېړنې میتود، د ترسره شوو فعالیتونو، د پایلو کیفیت، د ټاکل شوې مودې رعایت، د بودجې د مصرف اسناد او د څېړونکي حقیقي ونډه په پام کې نیول کېږي.

۱۲. د څېړنیزې پروژې حق الزحمه او منظور شوي مصارف د پروژې له منظورۍ، د کار له پرمختګ، د علمي راپور له ارزونې او د اړوندو مالي اسنادو له بشپړېدو وروسته، د پوهنتون د منظورې شوې بودجې او نافذه مالي اصولو مطابق ورکول کېږي.

۱۳. که څېړونکی د منظورې شوې پروژې چارې پرته له موجه دلیل څخه په ټاکل شوې موده کې بشپړې نه کړي، یا یې پایلې د منظور شوي کاري پلان او ټاکل شویو معیارونو سره جدي مغایرت ولري، د حق الزحمې د بشپړې یا پاتې برخې د ورکړې په اړه به د څېړنو کمېټه د ترسره شوي کار د اندازې او کیفیت له ارزونې وروسته پرېکړه کوي.

۱۴. که په څېړنیزه پروژه کې علمي سرقت، د معلوماتو جعل یا تحریف، د معلوماتو قصدي پټول یا د علمي امانتدارۍ بله جدي سرغړونه ثابته شي، د پروژې د منظورۍ، حق الزحمې او نورو امتیازاتو په اړه به د پوهنتون د نافذه اصولو مطابق تصمیم نیول کېږي.

۱۵. هغه څېړنیزې پروژې، چې د پوهنتون په غوښتنه ترسره کېږي او د دې طرزالعمل شرایط پکې رعایت شوي وي، ترسره کوونکي یې د منظورې شوي حق الزحمې مستحق ګڼل کېږي.

۱۶. د علمي څېړنیزو پروژو د ترسره کولو لپاره باید د پروژې موخه، د کار ساحه، کاري پلان، د تطبیق موده، بودجه، د څېړونکي مسؤولیتونه او تمه کېدونکې پایلې له مخکې څخه مشخصې شي.

۱۷. هغه علمي کادر غړي چې د پوهنتون له خوا د منظورې شوې څېړنیزې پروژې د ترسره کولو مسؤولیت پر غاړه اخلي، باید د پروژې پایلې په ټاکل شوې موده کې اړوندې مرجع ته وړاندې کړي.

۱۸. د ملي او نړیوالو سیمینارونو، کنفرانسونو، سمپوزیمونو او ورته علمي پروګرامونو په تنظیم او ګډون کې د حق الزحمې او نورو مالي امتیازاتو شرایط، پرته له هغو کنفرانسونو چې د دې طرزالعمل د ۲۲مې مادې له مخې مشخص شوي، د پوهنتون د علمي شورا له تائید او د نافذه مالي اصولو مطابق تنظیمېږي.

**یوویشتمه ماده: د علمي مقالو د لیکلو او نشر علمي مکلفیت**

۱. هر استاد مکلف دی، چې په هر کال کې لږ تر لږه یوه داخلي علمي مقاله ولیکي، د اړوندو علمي مراجعو له ارزونې وروسته یې د نشر لپاره برابره او نشر کړي.

۲. هر استاد مکلف دی، چې په هرو درېیو کلونو کې لږ تر لږه یوه نړیواله علمي مقاله ولیکي او د پوهنتون له خوا د معتبر نړیوال علمي ژورنال په توګه په پېژندل شوي ژورنال کې یې د نشر لپاره وړاندې کړي.

۳. په دې طرزالعمل کې «معتبر نړیوال علمي ژورنال» هغه علمي ژورنال یا مجله ده چې:

- علمي او تخصصي موضوع ولري.
- د علمي مقالو د ارزونې لپاره د همکارانو د علمي ارزونې (Peer Review) معیاري بهیر ولري.
- د ژورنال د اعتبار، نشراتي سابقې، علمي کمېټې، ISSN او نشراتي پالیسۍ په اړه څرګند او د اعتبار وړ معلومات ولري.
- د پوهنتون د څېړنو کمېټې له خوا د اعتبار وړ وپېژندل شي.
- هغه ژورنالونه، چې په Scopus یا Web of Science (Wos) کې ثبت وي، د اعتبار له پلوه د لومړیتوب وړ ګڼل کېږي.
- هغه نړیوال ژورنالونه، چې په Scopus یا WoS کې شامل نه وي، یوازې هغه مهال د نړیوالې علمي مقالې لپاره د اعتبار وړ ګڼل کېږي، چې د پوهنتون د څېړنو کمېټې له ارزونې او تائید وروسته معتبر وپېژندل شي.

۴. د نړیوال علمي ژورنال د اعتبار د ارزونې او تائید صلاحیت د پوهنتون د څېړنو او نشراتو کمېټې سره دی او کمېټه مکلفه ده، چې د ژورنال د اعتبار په ارزونه کې د اړوندو نړیوالو علمي ډېټابیسونو، د ژورنال د علمي ارزونې بهیر، نشراتي سابقې او نورو معتبرو معیارونو څخه استفاده وکړي.

۵. که د استاد مقاله د معتبر نړیوال ژورنال له خوا د علمي ارزونې وروسته رد شي، خو مقاله د دې طرزالعمل له معیارونو سره سمه برابره شوې، د پوهنتون له خوا د منظور شوي وخت په جریان کې اړوند معتبر نړیوال ژورنال ته وړاندې شوې او

د رد دلیل د مقالې د علمي مکلفیت له ترسره کوونکي څخه بهر عوامل وي، د مقالې د لیکلو او رسمي وړاندې کولو مکلفیت ترسره شوی ګڼل کېږي؛ مشروط پر دې چې د مقالې د رد رسمي سند یا د ژورنال د رد برېښنالیک موجود وي.

۶. که مقاله د علمي سرقت، جعلي معلوماتو، د علمي امانتدارۍ د اصولو د سرغړونې، ناسمې حوالې، د ژورنال د اصولو د قصدي سرغړونې یا د مؤلف د څرګندې علمي او تخنیکي کمزورۍ له امله رد شي، د استاد مکلفیت نه ترسره کېږي او باید د ټاکل شوې مودې په پای کې د مقالې د اصلاح او بیا وړاندې کولو یا د نوې مقالې د برابرولو له لارې خپل علمي مکلفیت بشپړ کړي.

۷. د ګډې علمي مقالې په صورت کې د مقالې د لیکنې د اعتبار لپاره باید د هر مؤلف حقیقي علمي ونډه څرګنده او مستنده وي. یوازې نوم درج کول، اداري ملاتړ، مالي مرسته، ټایپ، فورم، ژبنی سمون یا ورته غیری علمي خدمتونه د علمي مؤلفیت لپاره کافي نه دي.

۸. که د څو استادانو په ګډه مقاله لیکلې وي، د هر مؤلف حقیقي علمي ونډه باید د مقالې له نهایي سپارلو وړاندې په لیکلي ډول ثبت شي. د هر مؤلف د علمي مکلفیت د محاسبې لپاره هغه مقاله یوازې د هغه مؤلف په نوم د مکلفیت د ترسره کولو لپاره حسابېږي، چې په علمي محتوا، څېړنه، تحلیل، لیکنه یا د علمي نظریې په رامنځته کولو کې یې مستنده او د پام وړ ونډه اخیستې وي.

۹. د یوې ګډې مقالې د څو مؤلفینو ترمنځ د علمي مکلفیت د محاسبې طریقه باید د هر مؤلف د حقیقي علمي ونډې، د مقالې د مسؤلیت او د پوهنتون د منظور شوو اصولو له مخې وټاکل شي. یوه مقاله د ټولو مؤلفینو لپاره د بشپړ علمي مکلفیت د ترسره کېدو په معنا نه ده، مګر که د اړوندې علمي مرجع له خوا د هر مؤلف علمي ونډه د بشپړ مکلفیت د پوره کولو وړ وبلل شي.

۱۰. هغه علمي مقالې چې استاد یې د خپل رسمي علمي مکلفیت د ترسره کولو په موخه لیکي، د دې طرزالعمل له مخې یې لیکونکي د مالي حق الزحمې مستحق نه ګڼل کېږي.

۱۱. د رسمي علمي مکلفیت له مخې د مقالې لیکل او نشرول د استاد د علمي فعالیت په توګه ثبتېږي او د ارزونې، علمي رتبو او نورو اړوندو علمي امتیازاتو لپاره د نافذه اصولو مطابق اعتبار لري.

۱۲. د استاد د علمي مکلفیت د ترسره کولو په برخه کې د پوهنتون د علمي څېړنو آمریت، علمي څېړنو بورډ او نورو اړوندو علمي مراجعو علمي او تخنیکي مرسته د پوهنتون د علمي فعالیتونو د ملاتړ یوه برخه ګڼل کېږي.

**دوه ویشتمه ماده: د علمي کنفرانسونه او د هغې حق الزحمه**

۱. هر استاد مکلف دی، چې د خپل کلني اکاډمیک مکلفیت د یوې برخې په توګه، په هر کال کې لږ تر لږه یو (۱) علمي کنفرانس د پوهنتون د اړوندو علمي مراجعو په همغږۍ وړاندې کړي.

۲. هغه کنفرانس، چې استاد یې د خپل کلني اکاډمیک مکلفیت د بشپړولو په موخه وړاندې کوي، د استاد د رسمي اکاډمیک مکلفیت برخه ګڼل کېږي او د دغه کنفرانس په بدل کې جلا حق الزحمه نه ورکول کېږي.

۳. د استاد د کلني اکاډمیک مکلفیت له بشپړولو وروسته، هغه اضافي علمي کنفرانسونه، چې د پوهنتون له اړوندو علمي او اداري مراجعو سره په رسمي همغږۍ او تأئید ترسره کېږي، د اضافي علمي فعالیت په توګه ثبتېږي.

۴. د دې مادې د دریېم بند له مخې د هر اضافي علمي کنفرانس د وړاندې کولو په بدل کې استاد ته زر (۱۰۰۰) افغانۍ حق الزحمه ورکول کېږي.

۵. د اضافي کنفرانس د حق الزحمې د ورکړې لپاره باید کنفرانس د پوهنتون له اړوندو مراجعو سره په رسمي ډول همغږۍ او تائید شوی وي او د ترسره کېدو مستند راپور ولري.

۶. د کنفرانس موضوع باید علمي او تخصصي بڼه ولري، د اړوندې څانګې علمي اړتیاؤ او د پوهنتون له علمي موخو سره مطابقت ولري.

۷. د هر استاد د کلني اکاډمیک مکلفیت د کنفرانس او اضافي کنفرانسونو ثبت، ارزونه او د حق الزحمې د ورکړې لپاره به د څېړنو آمریت یا اړونده علمي مرجع لازم اسناد ثبت او ساتي.

۸. د یوه کنفرانس لپاره د حق الزحمې د ورکړې په موخه باید د کنفرانس عنوان، د وړاندې کوونکي استاد نوم، نېټه، د ترسره کېدو ځای، د ګډونوالو شمېر، د اړوندې مرجع د تائید سند او د کنفرانس راپور موجود وي.

۹. د دې مادې له مخې ټاکل شوي حق الزحمه د استاد د رسمي اکاډمیک مکلفیت له حق الزحمې څخه جلا دی او یوازې د هغه اضافي کنفرانس په بدل کې ورکول کېږي، چې د کلني مکلفیت له بشپړېدو وروسته ترسره شوی وي.

۱۰. د دې مادې له مخې د حق الزحمې ورکړه د پوهنتون د منظورې شوې بودجې او نافذه مالي اصولو په چوکاټ کې ترسره کېږي.

**درویشتمه ماده: د علمي مقالو په لیکلو کې همکاري او د مالي امتیاز ویش**

۱. که د علمي مقالې د لیکلو، څېړنې، علمي تحلیل، احصایوي کار، علمي بیا کتنې، ژبني سمون، تخنیکي تنظیم او نورو اړوندو علمي فعالیتونو په برخه کې همکارۍ ته اړتیا وي، د علمي څېړنو آمریت یا علمي څېړنو بورډ کولای شي، چې د شته متخصصینو او علمي همکارانو له لارې د مقالې له مؤلف سره مرسته وکړي.

۲. هغه علمي مقاله چې د استاد یا علمي کادر غړي د رسمي علمي مکلفیت له چوکاټ څخه بهر، د پوهنتون د علمي څېړنو آمریت یا اړوندې مرجع په علمي همکارۍ او منظورۍ سره چمتو کېږي او د دې طرزالعمل له مخې د مالي امتیاز مستحقه وګڼل شي، د مالي امتیاز ۲۰ سلنه د مقالې د علمي مسؤول یا اصلي مؤلف لپاره او ۸۰ سلنه د هغو علمي همکارانو لپاره ځانګړې کېږي، چې د مقالې په علمي او تخنیکي برخو کې یې مستنده ونډه اخیستې وي.

۳. حقیقي علمي ونډه هغه مستنده ونډه ده، چې د مقالې په موضوع، څېړنه، معلوماتو، علمي تحلیل، لیکنه، احصایوي تحلیل، علمي بیا کتنه یا د علمي محتوا په رامنځته کولو کې په مستقیم ډول اغېز ولري.

۴. پراخه علمي ونډه هغه ونډه ده، چې د مقالې د علمي محتوا، څېړنیزې پروسې او پایلو په رامنځته کولو کې د پام وړ او اساسي رول ولري او د مقالې له عمومي کیفیت سره مستقیم ارتباط ولري.

۵. د مالي امتیاز د ۸۰ سلنې د وېش لپاره د هر همکار ونډه د لاندې معیارونو او امتیازونو له مخې ارزول کېږي.

| شمېره | د ونډې برخه | اعظمي امتیاز |
|---|---|---|
| ۱ | د موضوع، عنوان او څېړنیزې طرحې په برابرولو کې ونډه | ۱۰ |
| ۲ | د علمي منابعو او معلوماتو راټولول | ۱۰ |
| ۳ | د معلوماتو راټولول او تنظیمول | ۱۵ |
| ۴ | د معلوماتو علمي او احصایوي تحلیل | ۱۵ |
| ۵ | د مقالې د علمي متن لیکل او برابرول | ۲۰ |
| ۶ | علمي بیاکتنه، نقد او د محتوا اصلاح | ۱۰ |
| ۷ | احصایوي او میتودولوژیکي مرسته | ۱۰ |
| ۸ | ژبنی، املایي او تخنیکي تنظیم | ۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۹ | د مقالې د نهايي علمي کيفيت په تأمين او د نشر لپاره په چمتو کولو کې ونډه | ۵ |

۶. د هر همکار د مالي امتياز اندازه د پورته جدول له مخې د ترلاسه شوو امتيازونو په تناسب ټاکل کېږي. هغه همکار چې د ۸۰ سلنې له ځانګړې شوې برخې څخه د مثال په ډول ۴۰ سلنه امتيازي ونډه ولري، د همکارانو د ۸۰ سلنې مالي امتياز له مجموعې څخه به د خپلې ونډې مطابق برخه ترلاسه کوي.

۷. هغه فعاليتونه چې يوازې د ټايپ، فورم، اداري تنظيم، د اسنادو انتقال، چاپي چمتووالي او ورته غيری علمي تخنيکي خدمتونو پورې محدود وي، حقيقي علمي ونډه نه ګڼل کېږي او د مقالې د علمي مؤلفيت سبب نه ګرځي؛ خو که د پوهنتون له نافذه اصولو سره سم ورته جلا مالي امتياز ټاکل شوی وي، مستحق کس يې ترلاسه کولای شي.

۸. د مقالې د علمي مؤلفيت په برخه کې يوازې هغه کسان شاملېدای شي، چې د مقالې په علمي محتوا، څېړنه، تحليل، علمي ليکنه، تفسير يا د علمي نظريې په رامنځته کولو کې د پام وړ ونډه ولري.

۹. د مالي امتياز ترلاسه کول په خپله د شخص د علمي مؤلفيت يا د مقالې د ليکوالۍ دليل نه ګڼل کېږي.

۱۰. د هر همکار د ونډې ارزونه بايد د «علمي مقالې د همکارۍ او مالي امتياز د وېش فورم» له لارې ترسره شي. په فورم کې بايد د هر همکار نوم، د دندې يا ونډې ډول، ترلاسه شوي امتيازات، د ونډې سلنه او د مالي امتياز اندازه درج شي.

۱۱. د مالي امتياز د وېش فورم بايد د مقالې له نهايي کېدو او نشر څخه وړاندې د علمي څېړنو آمريت يا بورډ له خوا وکتل شي او د اړوندو همکارانو له خوا تائيد شي.

۱۲. که د همکارانو ترمنځ د ونډې په اندازه اختلاف رامنځته شي، د علمي څېړنو آمريت يا اړوند بورډ مکلف دی، چې د موجودو اسنادو، کاري شواهدو او د ونډې د ارزونې فورم پر بنسټ پرېکړه وکړي.

**څلور ويشتمه ويشتمه ماده: د مقالو د نشر لګښتونه**

۱. هغه علمي مقالې چې د پوهنتون له خوا منظورې شوې او د پوهنتون د علمي فعاليتونو په چوکاټ کې د نشر لپاره وړاندې کېږي، د نشر اړوند لازم او منظور شوي مالي لګښتونه د پوهنتون پر غاړه دي.

۲. په منظور شوو نشراتي لګښتونو کې د علمي ژورنال د نشر فيس، د مقالې د ارزونې فيس او نور هغه لګښتونه شاملېدای شي، چې د پوهنتون له خوا منظور شوي وي.

۳. د مقالې د نشر لګښتونه د مؤلف يا همکارانو له مالي حق الزحمې څخه جلا دي او د نشر لګښت ورکول د هغوی د مالي امتياز د کمېدو سبب نه ګرځي.

۴. د نړيوالو علمي ژورنالونو لپاره د نشر فيس بايد د اړوندې مرجع له خوا له ارزونې او تائيد وروسته ورکړل شي.

۵. هغه ژورنالونه چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري د علمي اعتبار، کيفيت او نړيوالو معيارونو له پلوه د باور وړ نه وي، د پوهنتون له خوا د رسمي علمي نشر لپاره نه منظورېږي.

**پنځه ويشتمه ماده: د علمي مقالو د ارزونې او ثبت شرايط**

۱. هره علمي مقاله بايد له نشر وړاندې د علمي څېړنو کمېټې او بورډ له لوري وارزول شي.

۲. د مقالې د ارزونې پر مهال بايد علمي محتوا، د څېړنې ميتود، د منابعو اعتبار، د حواله ورکولو اصول، ژبه، جوړښت او د علمي امانتدارۍ اصول په پام کې ونيول شي.

۳. د علمي څېړنو آمريت يا بورډ مکلف دی، چې د پوهنتون د علمي کادر غړو د مقالو د ليکلو، ارزونې، نشر او مالي امتياز اړوند اسناد په منظم ډول ثبت او وساتي.

۴. د هرې مقالې لپاره باید د مؤلفینو او علمي همکارانو نومونه، د هغوی د ونډې اندازه، د مالي امتیاز وېش او د نشر معلومات په اړوند فورم کې ثبت او درج شي.

## پنځم فصل

## د اثارو د حق الزحمې او مالي امتیاز اندازه

**شپږ ویشتمه ماده: د حق الزحمې اندازه**

د دې طرزالعمل له مخې د علمي اثارو حق الزحمه په لاندې ډول ټاکل کېږي:

۱. د تألیف شوي اثر د هرې معیاري پاڼې لپاره (۴۰۰) افغانۍ.

۲. د افغانستان په رسمي ژبو د تدوین شوي اثر د هرې معیاري پاڼې لپاره (۳۰۰) افغانۍ.

۳. له بهرنیو ژبو څخه د افغانستان رسمي ژبو ته د ژباړې د هرې معیاري پاڼې لپاره (۲۰۰) افغانۍ.

۴. د افغانستان له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د ژباړې د هرې معیاري پاڼې لپاره (۱۰۰) افغانۍ.

۵. د درسي کتاب د هرې معیاري پاڼې لپاره (۳۰۰) افغانۍ.

۶. د ممد درسي کتاب د هرې معیاري پاڼې لپاره (۱۸۰) افغانۍ.

۷. په ملي ژبو د هرې معیاري پاڼې د سمون لپاره: (۶۰) افغانۍ.

۸. په نړیوالو ژبو د سمون د هرې معیاري پاڼې لپاره: (۱۰۰) افغانۍ.

۹. د تقریظ د هرې معیاري پاڼې لپاره: (۳۰) افغانۍ.

۱۰. د داخلي علمي مقالې لپاره (۸۰۰۰) افغانۍ.

۱۱. د نړیوالې علمي مقالې لپاره (۱۰۰۰۰) افغانۍ.

۱۲. د دې مادې د ۱۰ او ۱۱ بندونو له مخې ټاکل شوی مالي امتیاز یوازې هغو مقالو ته ورکول کېږي، چې د علمي کادر غړي د رسمي علمي مکلفیت له مخې نه وي لیکلې، بلکې د پوهنتون د منظور شوي علمي فعالیت په توګه د اضافي علمي کار په موخه ترسره شوې وي.

۱۳. د کلني اکاډمیک مکلفیت له بشپړېدو وروسته د پوهنتون له اړوندو مراجعو سره په رسمي همغږۍ د هر اضافي علمي کنفرانس د وړاندې کولو لپاره زر (۱۰۰) افغانۍ.

**اووه ویشتمه ماده: د حق الزحمې د ورکړې شرایط**

۱. د علمي اثر د حق الزحمې ۲۵ سلنه د اثر له بشپړېدو، ارزونې او د چاپ لپاره له وروستۍ منظورۍ وروسته ورکول کېږي.

۲. پاتې ۷۵ سلنه حق الزحمه د اثر له چاپ او د چاپ اړوندو اسنادو له بشپړېدو وروسته ورکول کېږي.

۳. که اثر د چاپ لپاره وروستۍ منظوري ترلاسه کړي، خو د پوهنتون د مالي، اداري یا نورو هغو دلایلو له امله چې د مؤلف یا ژباړن له مسؤولیت څخه بهر وي، چاپ نه شي، د لومړي پړاو حق الزحمه د ترسره شوي کار په بدل کې د مستحق کس حق ګڼل کېږي او پاتې حق الزحمه د پوهنتون د نافذه مالي اصولو او د موجودو امکاناتو له مخې تنظیمېږي.

۴. که اثر د مؤلف یا ژباړن د علمي، مسلکي یا تخنیکي کمزورۍ له امله د چاپ وړ ونه ګڼل شي او د ټاکل شوې مودې په ترڅ کې لازم اصلاحات ترسره نه شي، د پاتې حق الزحمې د ورکړې حق نه لري؛ د ترسره شوي کار د حق الزحمې په اړه د ارزونې کمېټه د کار د بشپړتیا او کیفیت له مخې پرېکړه کوي.

۵. که په اثر کې علمي سرقت، جعل، د معلوماتو تحریف یا د علمي امانتدارۍ بله جدي سرغړونه ثابته شي، مؤلف یا ژباړن د دغه اثر د حق الزحمې مستحق نه ګڼل کېږي او که د حق الزحمې کومه برخه مخکې ورکړل شوې وي، د بېرته اخیستلو او نورو اقداماتو په اړه به د نافذه اصولو مطابق پرېکړه کېږي.

۶. د نوي چاپ لپاره د حق الزحمې اندازه د اثر د اصلاح، نوي کېدو او په محتوا کې د رامنځته شوو بدلونونو له اندازې سره سم، د پوهنتون د اصولو له مخې په جلا توګه ټاکل کېږي

۷. د لکچر نوټونه برابرول د دې مادې له مخې د حق الزحمې مستحق نه دي، خو که د علمي شورا له خوا د ځانګړي علمي اثر په توګه منظور شي، بیا د حق الزحمې مستحق کیږي.

**اته ویشتمه ماده: علمي او مسلکي امتیازات**

۱. مؤلف، ژباړن، تدوین کوونکی او څېړونکی، چې د دې طرزالعمل له مخې یې لازم علمي فعالیتونه ترسره کړي وي، د پوهنتون د نافذه اصولو او د علمي رتبو د مقرراتو مطابق د خپلو علمي فعالیتونو د ثبت او ارزونې مستحق ګڼل کېږي.

۲. د علمي فعالیتونو ثبت او د علمي رتبې لپاره د اعتبار ورتیا به د اړوند نافذه اصولو، مقرراتو او د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو مطابق ارزول کېږي.

**نهه ویشتمه ماده: د چاپ شوي اثر وړیا نسخې**

۱. د اثر مؤلف، تدوین کوونکی او ژباړن په وړیا ډول د چاپ شوي اثر د شلو (۲۰) جلدونو د ترلاسه کولو مستحق ګڼل کېږي.

۲. که د اثر مؤلفین، تدوین کوونکي یا ژباړونکي له یوه څخه زیات وي، هر یو یې په وړیا ډول د لسو (۱۰) جلدونو د ترلاسه کولو مستحق ګڼل کېږي.

۳. د اثر سمون ورکوونکي او تقریظ ورکوونکي ته د اثر دوه (۲) جلده وړیا ورکول کېږي.

۴. د وړیا نسخو شمېر د چاپ د تیراژ، د پوهنتون د اړتیاوو او د موجودو مالي امکاناتو له مخې د څېړنو او نشراتو کمېټې په وړاندیز تنظیم کېدای شي.

**دېرشمه ماده: د چاپ او نشر حقوق**

۱. پوهنتون کولای شي، چې د علمي او تحصیلي اړتیاوو له مخې چاپ شوی اثر بیا چاپ او نشر کړي.

۲. مؤلف، تدوین کوونکی او ژباړن کولای شي، چې د پوهنتون د چاپ او نشر د حقوقو په پام کې نیولو سره، د پوهنتون د ریاست او د څېړنو او نشراتو کمېټې له رسمي اجازې وروسته خپل چاپ شوی اثر له پوهنتون څخه بهر بیا چاپ یا نشر کړي.

۳. د پوهنتون له خوا چاپ شوي اثر بیا چاپ او نشر باید د مؤلف، ژباړن یا د قانوني حق لرونکي شخص د حقوقو او د پوهنتون د حقوقي او قراردادي اصولو مطابق ترسره شي.

۴. د هر علمي اثر د چاپ او نشر حقوق، د مؤلف، ژباړن او پوهنتون د حقوقو او مسؤولیتونو په ګډون، باید د اثر په لومړیو مخونو کې په واضح او لیکلې بڼه مشخص شي.

۵. د اثر د مالکیت، چاپ او نشر د حقونو په اړه د مؤلف او پوهنتون ترمنځ د اړتیا په صورت کې جلا لیکلی قرارداد ترتیبېږي.

۶. د مؤلف یا قانوني وارث د نه موجودیت په صورت کې د پوهنتون حقوق او مسؤولیتونه د نافذه اصولو او د موجودو قراردادونو له مخې تنظیمېږي.

**یو دېرشمه ماده: علمي امانتداري او د سرقت مخنیوی**

۱. ټول مؤلفین، ژباړونکي، څېړونکي، تدوین کوونکي، سمون ورکوونکي او تقریظ ورکوونکي مکلف دي، چې د علمي امانتدارۍ اصول رعایت کړي.

۲. هر ډول علمي سرقت، جعل، د معلوماتو تحریف، د بل چا د اثر غیری مجاز نقل او د بل شخص علمي نظریاتو ته د نه حوالې ورکول، د دې طرزالعمل له اصولو څخه سرغړونه ګڼل کېږي.

۳. پوهنتون کولای شي، چې د اړتیا په صورت کې د علمي اثارو د اصالت ارزونې لپاره د علمي سرقت د تشخیص له معیاري تخنیکونو او وسایلو څخه استفاده وکړي.

۴. که د ارزونې په هر پړاو کې علمي سرقت ثابت شي، اثر د چاپ له بهیر څخه ایستل کېږي او موضوع د پوهنتون د نافذه اصولو مطابق تعقیبېږي.

## شپږم فصل

## د محصلینو، استادانو او علمي څېړونکو د تشویق او ترغیب احکام

**دوه دېرشمه ماده: د تشویق او ترغیب موخې**

د محصلینو، علمي کادر غړو، څېړونکو او نورو علمي همکارانو د علمي، څېړنیزو، تألیفي، ژباړنیزو، نشراتي او نوښتګرو فعالیتونو د پیاوړتیا، د علمي کیفیت لوړولو، د سالمې علمي سیالۍ د رامنځته کولو او د علمي لاسته راوړنو د تقدیر په موخه لاندې تشویقي اقدامات ترسره کېږي:

۱. د غوره علمي، څېړنیزو، تألیفي، ژباړنیزو او نشراتي فعالیتونو ترسره کوونکي د ټاکلو معیارونو مطابق تشویق او تقدیرېږي.

۲. د علمي فعالیتونو د کیفیت، کمیت، نوښت او د سالمې علمي سیالۍ لپاره زمینه برابرېږي.

**درې دېرشمه ماده: د محصلینو د تشویق او ترغیب اقدامات**

هغه محصلین، چې د علمي څېړنو، علمي مقالو، علمي کنفرانسونو، سیمینارونو، علمي سیالیو، نوښتونو، ابتکاراتو او نورو علمي فعالیتونو په برخه کې غوره لاسته راوړنې ولري، د لاندې شرایطو مطابق تشویق او تقدیرېږي:

۱. د علمي څېړنو او مقالو په برخه کې د پام وړ نوښتګر محصلین د ستاینلیک، تقدیر نامې او نورو منظور شوو تشویقي امتیازاتو مستحق ګڼل کېږي.

۲. هغه محصلین، چې په علمي سیالیو، کنفرانسونو، سیمینارونو، څېړنیزو ننداړتونونو او نورو علمي پروګرامونو کې یې غوره مقامونه ترلاسه کړي وي، د پوهنتون له لوري تقدیرېږي.

۳. د محصلینو علمي مقالې، څېړنیز آثار او نوښتونه د علمي کیفیت، اصالت، نوښت او علمي اغېز له مخې ارزول کېږي او غوره فعالیت لرونکي محصلین د تشویق په موخه اړونده مرجع ته معرفي کېږي.

۴. غوره محصلینو ته د ستاینلیک، تقدیر نامې، علمي کتابونو، علمي منابعو، روزنیزو پروګرامونو او علمي کنفرانسونو کې د ګډون او نورو منظور شوو غیری مالي امتیازاتو زمینه برابرېږي.

۵. د محصلینو د علمي فعالیتونو د تشویق پر مهال د فعالیت کیفیت، نوښت، اصالت، علمي اغېز او د محصل حقیقي ونډه په پام کې نیول کېږي.

۶. د محصلینو د تشویق لپاره نوماندان د اړوندې څانګې او پوهنځي له خوا د اړوندو علمي اسنادو او شواهدو پر بنسټ معرفي کېږي.

۷. د محصلینو د تشویق وروستی وړاندیز د څېړنو کمېټې له ارزونې وروسته د اړوندې مرجع د تائید او تصویب لپاره وړاندې کېږي.

**څلور دېرشمه ماده: د استادانو او علمي کادر غړو د تشویق او ترغیب اقدامات**

هغه استادان او علمي کادر غړي، چې د علمي څېړنو، تألیف، ژباړې، تدوین، علمي مقالو، درسي او ممد درسي اثارو، نوښتونو او نورو علمي فعالیتونو په برخه کې غوره لاسته راوړنې ولري، د لاندې شرایطو مطابق تشویق او تقدیرېږي:

۱. د غوره علمي څېړنې، علمي مقالې، تألیف، ژباړې، درسي اثر او نورو علمي لاسته راوړنو ترسره کوونکي استادان د منظور شوو معیارونو مطابق تقدیرېږي.

۲. هغه استادان، چې علمي مقالې یې په معتبرو ملي او نړیوالو علمي مجلو کې نشر شوې وي، د هغوی علمي فعالیتونه ثبت او د علمي تشویق او تقدیر په موخه ارزول کېږي.

۳. د درسي کتاب، ممد درسي کتاب، علمي اثر، ژباړې او نورو باکیفیته علمي اثارو مؤلفین او ژباړونکي د علمي فعالیت د کیفیت او اغېز له مخې تشویقېږي.

۴. هغه استادان، چې د پوهنتون د علمي څېړنو، نشراتو، علمي کنفرانسونو، سیمینارونو او نورو علمي فعالیتونو په پراختیا کې ځانګړې ونډه ولري، د علمي لاسته راوړنو له مخې تقدیرېږي.

۵. د غوره علمي فعالیتونو ترسره کوونکو استادانو ته د ستاینلیک، تقدیر نامې، مډال، علمي کتابونو، روزنیزو پروګرامونو او علمي کنفرانسونو کې د ګډون او نورو منظور شوو تشویقي امتیازاتو زمینه برابرېږي.

۶. هغه استادان، چې په دوامداره توګه غوره علمي فعالیتونه ترسره کوي، د علمي ظرفیت لوړونې، تخصصي روزنې او علمي کنفرانسونو کې د ګډون لپاره لومړیتوب ورکول کېږي.

۷. د استادانو د تشویق پر مهال د علمي فعالیت کیفیت، علمي اعتبار، نوښت، اصالت، دوام، علمي اغېز او د پوهنتون له علمي اړتیاوو سره د فعالیت تړاو په پام کې نیول کېږي.

**پنځه دېرشمه ماده: د علمي څېړونکو د تشویق او ترغیب اقدامات**

هغه علمي څېړونکي، استادان، علمي کادر غړي او نور مجاز علمي همکاران، چې د پوهنتون په علمي څېړنو او څېړنیزو پروژو کې غوره او اغېزناک فعالیت ترسره کړي، د لاندې شرایطو مطابق تشویق او تقدیرېږي:

۱. هغه څېړونکي، چې د پوهنتون له خوا منظورې شوې څېړنیزې پروژې په لوړ کیفیت، ټاکلي وخت او منظور شوي کاري پلان مطابق بشپړې کړي، د تقدیر او تشویقي امتیاز مستحق ګڼل کېږي.

۲. هغه څېړونکي، چې د څېړنو پایلې یې په معتبرو علمي مجلو، کنفرانسونو، سمپوزیمونو او نورو علمي مراجعو کې نشر یا وړاندې شوې وي، د علمي لاسته راوړنو محتوا ته په پام تقدیرېږي.

۳. هغه څېړنې، چې د پوهنتون د علمي، تحصیلي، ټولنیزو یا مسلکي اړتیاوو لپاره څرګند علمي او عملي اغېز ولري، د تشویق لپاره لومړیتوب لري.

۴. هغه څېړونکي، چې د نوښت، ابتکار، اختراع یا د علمي او مسلکي ستونزو د حل په برخه کې ځرګنده لاسته راوړنه ولري، د علمي لاسته راوړنې له مخې ځانګړی تشویق ترلاسه کوي.

۵. د غوره څېړونکو علمي لاسته راوړنې د پوهنتون په رسمي علمي غونډو او مجازو نشراتي وسایلو کې معرفي او تقدیرېږي.

۶. د علمي څېړونکو د تشویق پر مهال د څېړنې علمي کیفیت، نوښت، اصالت، د څېړنې پایلو علمي او عملي اغېز، د معتبرو منابعو کارونه، د علمي امانتدارۍ رعایت او د څېړونکي حقیقي ونډه په پام کې نیول کېږي.

**شپږ دېرشمه ماده: د تشویق او تقدیر د انتخاب معیارونه**

د محصلینو، استادانو او علمي څېړونکو د تشویق او تقدیر د مستحقو کسانو د ټاکلو پر مهال لاندې معیارونه په پام کې نیول کېږي:

۱. علمي کیفیت: د علمي فعالیت د محتوا دقت، اعتبار، بشپړتیا او د اړوندو علمي معیارونو رعایتول.

۲. علمي نوښت او ابتکار: په علمي فعالیت کې د نوې مفکورې، نوې طریقې، علمي حللارې یا نوې موندنې وړاندې کول.

۳. اصالت او علمي امانتداري: د علمي فعالیت اصالت، د معتبرو منابعو سمه کارونه، د حواله ورکولو اصولو رعایت او له علمي سرقت څخه پاکوالی.

۴. علمي او عملي اغېز: د علمي فعالیت پایلې او د هغې اغېز پر زده کړه، تدریس، څېړنه، مسلک، ټولنه یا د اړوندو علمي ستونزو حل.

۵. د علمي فعالیت اعتبار او نشر: په باوري او معتبرو علمي مجلو، کنفرانسونو، علمي مراجعو او نورو معتبره علمي پروګرامونو کې د علمي فعالیت وړاندې کول.

۶. د پوهنتون له علمي موخو سره همغږي: د پوهنتون له علمي، څېړنیزو، تحصیلي او نشراتي اړتیاوو او موخو سره د علمي فعالیت تړاو.

۷. د فعالیت دوام او علمي ونډه: په علمي فعالیتونو کې دوامداره ونډه، د علمي فعالیتونو شمېر او د نوماند حقیقي او مستنده ونډه.

۸. د ټاکل شوو معیارونو او مهلتونو رعایت: د علمي فعالیت د ترسره کولو پر مهال د پوهنتون د نافذه اصولو، ټاکل شوو علمي معیارونو او منظور شوو کاري مهلتونو رعایتول.

۹. د علمي فعالیت د پایلو مستندوالی: د ترسره شوي علمي فعالیت د پایلو، لاسته راوړنو، نشر، وړاندې کولو او اغېز په اړه د باوري او رسمي اسنادو موجودیت.

۱۰. د ګډ علمي فعالیت ونډه: د ګډ علمي فعالیت په صورت کې د هر ګډونوال علمي، څېړنیزه او مسلکي ونډه د مستندو شواهدو پر بنسټ ارزول کېږي.

**اووه دېرشمه ماده: د تشویق ډولونه**

د دې فصل له مخې د محصلینو، استادانو او علمي څېړونکو تشویق په لاندې ډولونو ترسره کېږي:

۱. ستاینلیک او تقدیر نامه.

۲. مډال.

۳. د علمي کنفرانسونو، سیمینارونو، ورکشاپونو او روزنیزو پروګرامونو کې د ګډون زمینه.

۴. د علمي کتابونو او معتبرو علمي منابعو برابرول.

۵. د پوهنتون په رسمي علمي غونډو او مجازو نشراتي وسایلو کې د علمي لاسته راوړنو معرفي او تقدیر.

۶. د پوهنتون د منظورې شوې بودجې او نافذو مالي اصولو په چوکاټ کې مالي تشویقي امتیاز.

۷. د علمي ظرفیت لوړونې او مسلکي پرمختیا په پروګرامونو کې د ګډون لپاره لومړیتوب.

۸. نور علمي او تشویقي امتیازات، چې د پوهنتون د علمي شورا له خوا منظورېږي.

**اته دېرشمه ماده: د تشویق د نوماندانو وړاندیز او ارزونه**

۱. د محصلینو، استادانو او علمي څېړونکو د تشویق لپاره نوماندان د اړوندې څانګې، پوهنځي، علمي څېړنو آمریت او یا نورو مجازو علمي مراجعو له خوا معرفي کېږي.

۲. د نوماندۍ وړاندیز باید د علمي فعالیت اړوند اسناد، د فعالیت ډول، د فعالیت د کیفیت او اغېز ارزونه او د نوماند د حقیقي ونډې معلومات ولري.

۳. د څېړنو کمېټه د نوماندانو اسناد د دې فصل د ټاکل شوو معیارونو مطابق ارزوي.

۴. د اړتیا په صورت کې د نوماند د علمي فعالیت د ارزونې لپاره له اړوندو متخصصینو څخه علمي نظر اخیستل کېږي.

۵. د څېړنو کمېټه د ارزونې له بشپړېدو وروسته د تشویق مستحق کسان مشخص او خپل وړاندیز د منظورۍ لپاره اړوندې مرجع ته وړاندې کوي.

۶. د تشویق د مستحقو کسانو نومونه، د علمي فعالیت ډول، د تشویق دلیل او ورکړل شوی تشویقي امتیاز په اړوند فورم کې ثبت او ساتل کېږي.

**نهه دېرشمه ماده: د تشویق کلنی پروګرام**

۱. د څېړنو او نشراتو آمریت او د څېړنو کمېټه مکلف دي، چې هر کال د محصلینو، استادانو او علمي څېړونکو د علمي فعالیتونو د ارزونې او تشویق لپاره کلنی پروګرام ترتیب کړي.

۲. په کلني پروګرام کې د تشویق برخې، د نوماندۍ شرایط، د ارزونې معیارونه، د ارزونې موده او د تشویق ډولونه مشخصېږي.

۳. د تشویق کلنۍ پایله د پوهنتون علمي شورا ته وړاندې کېږي او د علمي فعالیتونو په کلني راپور کې ثبتېږي.

۴. د تشویق پروسه باید شفافه، عادلانه، مستنده او د علمي وړتیا پر بنسټ ترسره شي.

**څلوېښتمه ماده: د تشویقي امتیازاتو مالي شرایط**

۱. هغه مالي تشویقي امتیازات، چې د دې فصل له مخې ورکول کېږي، د پوهنتون د منظورې شوې بودجې، مالي امکاناتو او نافذو مالي اصولو په چوکاټ کې تنظیمېږي.

۲. د مالي تشویقي امتیاز اندازه د پوهنتون د علمي شورا او اړوندې مالي مرجع له تائید وروسته ټاکل کېږي.

۳. د دې فصل له مخې د مالي تشویقي امتیاز ورکړه د دې طرزالعمل له نورو حق الزحمو او مالي امتیازاتو څخه جلا ده.

۴. د مالي تشویقي امتیاز د ورکړې ټول اسناد باید د علمي څېړنو آمریت او مالي څانګې له خوا ثبت او خوندي وساتل شي.

## اووم فصل

## یو څلویښتمه ماده: متفرقه احکام

۱. هغه علمي آثار او فعالیتونه، چې په دې طرزالعمل کې په څرګند ډول نه وي ذکر شوي، د پوهنځي د څېړنو او نشراتو کمېټې په وړاندیز او د پوهنتون د څېړنو او نشراتو کمېټې له پرېکړې وروسته، د ورته علمي اثارو او فعالیتونو د معیارونو په پام کې نیولو سره ارزول کېږي او حق الزحمه ورته ټاکل کېدای شي.

۲. د دې طرزالعمل د تطبیق په بهیر کې د رامنځته کېدونکو مواردو د تفسیر صلاحیت د پوهنتون له علمي شورا سره دی.

۳. د دې طرزالعمل هر ډول تعدیل، حذف یا اضافه والی باید د پوهنتون د علمي شورا له تصویب وروسته نافذ شي.

**دوه څلویښتمه ماده: د طرزالعمل د تطبیق مسؤولیت**

د دې طرزالعمل د عملي تطبیق عمومي مسؤولیت د پوهنتون له ریاست سره دی او د علمي، څېړنیزو او نشراتي برخو د اجراآتو مسؤولیت د پوهنتون د علمي مرستیال، د څېړنو آمر، د څېړنو او نشراتو کمېټې او اړوند پوهنځیو د څانګو پر غاړه دی.

د دې طرزالعمل د تطبیق کیفیت د څارنې لپاره باید د څېړنو او نشراتو کمېټه د علمي اثارو د ارزونې او نشر په اړه کلنی راپور علمي شورا ته وړاندې کړي.

**درې څلویښتمه ماده: د طرزالعمل د اعتبار موده**

دا طرزالعمل له تصویب وروسته د پوهنتون د علمي شورا تر راتلونکي تعدیل یا لغوه کولو پورې د اجرا وړ دی.

هغه علمي فعالیتونه چې د دې طرزالعمل له تصویب څخه مخکې پیل شوي وي، د امکان تر حده د پخوانیو اصولو مطابق بشپړیږي؛ خو د نوو فعالیتونو لپاره د دې طرزالعمل احکام تطبیقېږي.

**څلور څلویښتمه ماده: نهایي حکم**

دغه طرزالعمل په (۷) فصلونو او (۴۴) مادو کې ترتیب شوی، چې د پوهنتون علمي شورا په (۱۴۰۵/۳/۳۱) هـ ش نېټه غونډه کې، چې د پروتوکول نمبر یې (۴) دی،له بحث او ارزونې وروسته تصویب او د اجرا وړ وګرځېد.

پوهنیار محب الله یار

د پوهنتون رئیس